ډاکتر لمر ۲۰۱۰/۸/۲۴

# يتيمه پښتو او که د معياري ليکدود تشه

درنو هيوادوالو يو ماښام لۀ برېښنايي رسنيو سره بوخت وم او د آريانا لروينون (تلويزيون) ته مې کتل، چې پۀ دې مهال (د جګړې کيسې) پۀ نامۀ يوه خپرونه پيل شوه، چې لۀ ناخوالو، پرهارونو او اوښکو ډکه خپرونه وه. دغه خپرونې د دويمې سقاوي پۀ موده کې د يوې مېرمنې د مېړۀ د شهادت ورځې شيې، پۀ پردېسۍ کې د دوو يتيمو لورانو روزنه او هغوی ته د ډوډۍ د موندلو ستونځې بيانولې او د دغه مېرمنې او لورانو لۀ سترګو څاڅکي څاڅکي اوښکې لکه وينې د زړۀ لۀ پرهارونو په اننګو څڅېدلې او بهېدلې، خو زۀ لاس تر ځنې ورته ناست وم او د ژوند د ناخوالو په سوچونو کې لاهو شوم.
ناڅاپي مې د ۱۳۶۳ لمريز لېږديز کال يوه زړه بوږنونکې پېښه راپۀ ياد شوه. هغه مهال زما انا (نيا)، زۀ د چرګانو لپاره پۀ وچه ډوډۍ پسې بازار ته استولی وم. کله چې کوټې سنګي ته ورسېدم، نو سمدلاسه مې د وچې ډوډۍ دوکان ته ورودانګل، خو کله چې دوکان ته ورننوتم، نو کتل مې، چې يوه سپين سرې، په شاه ټوغه، وچوړې مېرمن، چې زوړ پوړنی يې په سر ؤ، نو د وچو ډوډيو په بوغڅه کې آخته وه، چې لږ پاکه او لويه ټوټه ډوډۍ پکې وموندي.
ما له يو پلوه بيړه درلوده او له پلوه مې چندان حوصله هم نه درلوده، خو هغه مهال زه ډېر ځوان وم او له دغه ننداری مې زړۀ ډېر ژر پۀ تنګ شو، نو پۀ هغه مېرمن مې غږ وکړ: (خاله جان! چې مېپالين!، ګلش نان کهنه و خشک است!)، نو دغه مېرمنې راغبرګه کړه: (بچېم! خودت ای نانه برای کي مېخري؟). ما ورته رډې رډې وکتل او ورته مې ووېل، (خاله جان! کلګي اي نانه بر مرغا مېخره، چرا پرسان مېکني!)، خو مېرمنې سر را پورته کړ او لۀ اوښکو ډکې، له غمه سرې او ستومانه سترګې يې راواړولې او را ته يې وويل (بچېم! مه ده خانه يتيم دارم، اي نانه مېخرم کۀ برايشان تر کنم، که نرم شوه و باز يتيمايم بخورند!)، نو له دې وينا سره سم زۀ هک پک شوم، لۀ شرمه پۀ کاليو کې نۀ ځايېدم او د دوکان پۀ کونج کې ودرېدم او د ويلو مې نور څۀ نۀ لرل، خو د پېښې په يادون مې ليا اوس هم د زړه پرهارونه تازه شي او سترګې مې د ناهيلۍ له اوښکو ډکې شي!
درنو لوستونکو لۀ دغه پېښې لۀ دوو لسيزو ډېره موده تېره شوه، خو هغه خبرې او د هغه مېرمنې بېوزله اوښکې تر ننه زما پۀ ذهن کې پاتې دي او د هېواد د خلکو پۀ غمونو کې مې ډوبوي، مګر زۀ د دنيا پۀ کارونو کې ډېر بې وزلې يم او چې تنها شم د خپلو خيالونو پۀ څپو کې لۀ خپلو غمځپلو هېوادوالو سره د زړۀ اوښکې تويوم.
کله چې (د جګړې کيسې ) خپرونه پای ته ورسېده، نو پۀ برېښنا پاڼو کې مې د زړه سکون غوښت، نو د ليکنو په لوستو مې خپل غلطاوه، چې پر يو شمېر ليکنو مې سترګې ولګېدې، چې په هغوی کې يوه يې د ښاغلي معصوم هوتک وه او بله يې د ښاغلي پوهاند مجاور احمد زيار وه. د ښاغلي هوتک صيب ليکنه د ښاغلي پوهاند زيار د وينا او ليکبڼې دوواليزم ته ښودنه کوله او د پوهاند زيار ليکنې د پوهاند سفر او د ځينو کتنو او ناستو راپورتاژ ته او د ښاغلي معصوم هوتک سيمييز-ګړدوديز ليکبڼې ته ځانګړې شوې وه، خو تاسو بۀ وايئ چې د پورته يادې شوې موضوع يې د زيار او هوتک پر ليکنو پورې څۀ اړه ده!
ښاغلو لوستونکو! ما به مبالغه نه وي کړې، چې ووايم پښتو اوس يتيمه شوې او د سر سړی نه لري، نه يې مهربانه مور شته او نه هم دانا پلار، ځکه چې نن سبا پښتو په سمييز ګړدود کې لاهو ده، اشخاص ورسره وزلوبه کوي او هېڅوک نه غواړي په دغه ځورېدلې، ځپېدلې او تجريد شوې ژبې زړه وخوږوي او لکه هغه بوډۍ، چې خپلو يتيمانو ته يې د زړه وينې خوړلې، خو هېڅوک نشته چې پخپله پوهه او هڅو درنه پښتو له ورکېدو وژغورې، خو برعکس له پښتو سره تربګني کېږي، د پلندر او ميرې چلند ورسره کېږي. له خواشينې سره بايد ياده شي، چې په وروستيو څو لسيزو کې لکه افغاني ټولنه له پښتو سره هم خلقيتوب وشو او هم پرچمي توب، خو اغيارو بيا ورته د دوزخ ژبه وايي او موږ په پښتو پسې رااخيستې ده او پخپله مو ورسره جهاد اعلان کړی!
درنو هېوادوالو! زموږ او تاسو کور، کلی، ښار او لنډه دا چې ټول هېواد د بېلابېلو خپلمنځيو شخړو قرباني شو، چې وروستۍ درې لسيزه موږ پۀ ايتنيکي، ژبني، ايديولوژيکي او مذهبي مېچنه کې اوړۀ کېږو او د افغانستان خوار او بېوزله خلک زموږ د ځانغوښتنو بيه پخپله وينه ورکوي او د ځبرځواکونو تر ښکېلاک لاندې دي، خو زموږ لوستي افغانان پۀ چړچو بوخت دي او خپل هر څۀ پر نورو غواړي يا ومني يا يې ذهن ور مشکوک کړي.
د دغو دوو ليکنو اغېز لاپر ما پاتې ؤ، چې د موسی کلا د خونړې او ځپېدلې سيمې د يو ځوان ليکنه چې الکوزی يې کورنی نوم ؤ، تر سترګو شوه، خو د دغه ځوان د ليکنې دوو ټکو ته مې پام شو، چې ليکلي يې ول: وروسته لۀ دې چې سيمه لۀ طالبانو پاکه شوه، نو موږ تمه درلوده، چې د لوست او زده کړې لپاره لارې پرانيستې دي او د سيمې ماشومان او خلک کول شي پۀ خپله خوښه لوست وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

خو پهٔ زړهٔ پورې دا ده، چې دغه ځوان په لیکنه کې د نورو د ښوونکي پهٔ بڼه راڅرګندېږي او لیکي، چې یوه کتابچه او د ښاغلي عبدالباري جهاني کتاب ورسره ؤ، کله چې د مرکزي واکمني لهٔ پولیسو سره مخامخ کېږي، نو یو فارسي ژبې سپاهي ور ته وايي (مره بتې!) او لهٔ هغهٔ نه کتاب او کتابچه اخلي. کتابچه ورته پرې کوي او ایسته یې غورځوي، چې وروسته لهٔ دې د دغه ځواکونو بولندوی (قوماندان) راځي او د ښاغلي عبدالباري جهاني کتاب ګوري او هلک پهٔ څپېړه وهي او د دې ګواښ ورته کوي، چې تاسو کندهاریان لا اوس هم په سو او سوي لیکنې کوئ او زموږ لیکدود نه کاروئ!!! او دغه ځوان بیا وایي چې د دغه سړي لهٔ لهجې داسې ښکارېده، چې د جلال أباد وي، نو ځوان بیا ټینګټې کوي، چې د میرویس نیکهٔ او احمد شاه بابا زامنو چېرې یاست، چې پر موږ داسې ملنډې وهل کېږي.
درنو لوستونکو لیا مې د دغه لیکنې تاو لهٔ زړهٔ نه ؤ ختلی، چې د هرات د سیمې د یو بل افغان یوسفزي لیکنه پرانیسته، چې هغهٔ هم د معیاري پښتو شعار لیکلی ؤ او پهٔ پیل کې یې وړاندیز دا ؤ، چې پښتانه پوهان دې را ټول شي او د یوې کره پښتو بنسټ دې پیاوړی کي او د ښاغلي مجاور احمد زیار د لیکنې سرلیک (د خدای پهٔ پار یوه پښتو کره پښتو ولیکئ) یې هم لیکلی ؤ، خود خپلې لیکنې پهٔ ترڅ کې لهٔ خپلو سیمییزو دودونو، وینګ (تلفظ) او ګړدود (لهجې) تر سیوري لاندې راځي او یو پهٔ زړهٔ پورې تخیلي وړاندیز کوي، چې پرته لهٔ لهجوي بنسټه کوم علمي بنسټ یې نهٔ درلود، خو دغه لیکنې ډېر ژر لهٔ بربښناپاڼو ټولې شوې، چې علت بهٔ یې څهٔ وي زه هم نهٔ پوهېږم!!
ما هم ځو ورځې مخکې یوه لیکنه (پښتو د ذهني انارشیزم په لومه کې) تر سرلیک لاندې لیکلې وه، خو د ټول افغان د بحث په فورمونو کې لومړی د (ملي ګټور بحثونه) په برخه کې د مختارنومي افغان لخوا بحث ته وړاندې شوې وه، چې یو شمېر افغانانو جوت بحث پرې کړی ؤ، خو یو شمېر نورو وروڼو ماته د دغه لیکنې په اړه سپکې سپورې هم لیکلې وې، خو زما لیکنه هم ډېر ژر د ټول افغان له لومړی پاڼې لیرې شوه او د آرشیف کندې ته واچول شوه، ځینوبربښنا پاڼو خو لیا خپره هم نه کړه، چې دغه دریځ ماته د کیوبا د یو مشر فیډل کاسترو د شپې نا آرامه خوبونه راپه یاد کړل، ځکه چې داسې ویل کېږي، چې (CIA) هم فیډل کاسترو پسې رااخیستې وه او د وژلو چارې یې ورته سنجولې، نو فیډل کاسترو به هم د شپې لخوا پر یو ځای نه ویده کېده، نو زما لیکنه هم په بربښناپاڼو کې یا خپره نه شوه او یا هم له یوې خونې بلې ته تېره اوبېره کېدله، چې اوس د ټول افغان د (پښتو ادب او ګرامر) په برخه کې خوندي ده، خو ما ته زما د لیکنې په اړه د ښاغلي عبدالباري جهاني غبرګون (زه څه وایم او ډاکټر لمر څه وایي) تر ټولو غوره او روزونکی اړخ درلود، چې د ښاغلي عبدالباري جهاني صیبه مننه کوم او باید یاده کړم، چې د ښاغلي جهاني صیب لیکنو، ویناوو او شعرونو د ژوند په بهیر کې زما په پښتني او افغاني ذهنیت کې یو ځانګړی رول لوبولی دئ.
کله چې مجاهیلین په 1992 لمریز کال واک ته ورسېدل، نو په افغانستان کې اخوډب شروع شو، چې پایله یې په کابل کې د (90.000) انسانانو مړینه او د افغانستان وېشنه په ملکالطوایفي شوه،، چې د هر هېوادپاله افغان زړه ورته وینې ځځولې ، خو په دغه مهال کې د ښاغلي عبدالباري جهاني (او کندهاره د زمرو وطنه... او که پنجشیر دئ که واخان دئ وطن زما دئ...) هېوادپاله شعرونه د افغانستان وتلي او نامتو شخصیت ښاغلي ډاکټر محمد صادق فطرت ناشناس په خواږه غږ کې په زړه ښکونکې سندره وواښته، چې په افغانانو کې یې د نوي اوښتون پیلامې رامنځ ته کړې او د هر هېوادپال افغان د زړه سکون وګرځېده او د افغانستان د ځمکني بشپړتیا ولولې یې د هر افغان په زړه کې راژوندۍ کړې.
د ښاغلي عبدالباري جهاني نوم او د دوی مبارزه د افغانستان د خپلواکي او نن سبا د ښاغلي جهاني صیب دریځ د لوېدیزوالو د شیطاني وړاندیزونو، چې د افغانستان د وېشلو تبۍ یې توده کړې، پر ضد پخپله یو ستر اوښتون دئ، هر افغان د خپل هېواد مشر لکه ښاغلی عبدالباري جهاني او نور افغاني پوهانو ته درنښت کوي او د دوی نظریات ډېر پیاوړی ټولنیز اغېز لري، نو د افغانانو په جهاد او د پښتنو په یووالي کې د جهاني صیب، شپون صیب، حبیب الله رفیع صیب، کاروان صیب او داسې نورو لیکوالو او شاعرانو دریځ او سپارښت حیاتي رول لوبوي، خو په یوه او دوه ګلونو نه پسرلی کېږي!.
د افغانستان په هره سیمه کې باتور پښتانه د نورو هېوادپالو افغانانو سره د افغانستان لوېښت لوېښت خاوره د وینو په بیه ژغوري، خو داسې ګمان هم کېږي، چې یو شمېر پښتانه ډېر نازولي دي او غواړي چې د دوی ژبې ته پاړسیان، هندوان، ازبک او نور کار وکړي، مګرپښتنو دا لهٔ هېره ایستلې ده، چې پښتو د دوی ژبه ده او پهٔ افغانستان کې د وګړو ډېرګړي هم پښتانهٔ دي، ځکه نود افغانستان ملي ژبه وه او پهٔ افغانستان کې هڅې کېدې او کېږي، چې یو ملي هویت رامنځ ته شي، چې بنسټ بهٔ یې یوه ملي ژبه وي، خو پوښتنه دا ده کهٔ موږ پښتانهٔ پهٔ خپلو کې یو معیاري لیکدود ونهٔ لرو، نو د افغانستان لهٔ لږکیو ټبرونونه بیا څهٔ ګیله وکړو او پوښتنه دا کېږي چې هغوی د پښتنو کومه لهجه زده کړي او یا هم کوم لیکدود وکاروي!!! کندهاري، ننګرهاري، وردګي، خوستي او یا کوم بل ګړدود!!! دا ټوکه نهٔ ده، موږ باېد پهٔ دې پوه شو، چې د افغانستان 63 ٪ خلک پښتانهٔ دي ، خو د هېواد پاتې برخه یانې 37 ٪ پښتانهٔ نهٔ دي او هغوی هم لکه پښتانهٔ یو پیاوړي ملي هویت ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پادونې وړ ده، چې له 63 ٪ پښتنو لږ تر لږه ۲۵٪ پښتنانهٔ پارسي ګړېږي او پهٔ پښتو هم نهٔ پوهېږي. ګڼشمېر پښتانه د هېواد پهٔ شمالي سيمو کې مېشت دي، چې بېلابېلې لهجې لري، نوځکه يوې کره پښتو ته اړتيا لري. *دغه* ټولې هغه ستونځې دي، چې د افغانستان ملي هويت ته يې ستر ګواښ رامنځ ته کړی.
درنو هېوادوالو تاسو بهٔ ډېر ځله لوستي وي: لوی کندهار، لوی ننګرهار، لويه پکتيا او داسي نور، مګر تاسو بهٔ هېڅکله هم داسې نهٔ وي اورېدلي او يا لوستي لکه (هرات بزرګ، مزار بزرګ، شمالي بزرګ او داسي نور، مګر دغه سيمييز خلک د خپلې ژبې او سيمې لپاره کار کوي، حتی يو شمېر يې د پان ايرانيزم او تاجکستان بزرګ ناري وهي، غواړي افغانستان هسې په ګنډه ووهي، لکه حامد کرزي، چې څه موده مخکې افغانستان هسي په (سه کشور هم زبان!) کې مدغم کړ، خو دغه د پارس لېوال خلک د پرمختګ پهٔ لوري روان دي او يو موټي دي، مګر پښتانهٔ پهٔ ترېګني کې نښتي دي، پخپله سيمه کې ښوونځي سوځوي، ښوونکي وژني او خپل منورين لهٔ منځه وړي. د دغه ناخوالو سبب د پښتنو وېشل پهٔ کندهاري، وردګي، پکتياوال، کنړي، لغماني، خوستي او داسي نورو دي، چې د پښتنو پهٔ تاريخ کې د هغوی بې اتفاقي ته ښودنه کوي.
پهٔ وروستيو دريو لسيزو کې ما هم پهٔ افغانستان کې ډېر څهٔ وليدل او واورېدل، چې پهٔ پيل کې زهٔ ماشوم وم او ما د مرحوم قيوم وردګ پهٔ اړه اورېدل، چې (کهٔ وردګ وي مقرر دي شي!) او يا (در پشتو امي لهجی قندهاري بسيار شيرين است!)، خو کله چې زهٔ ځوان شوم، نو د (پکتيا جنرال مېزايد و شمال عسکر!) لهٔ وراشې سره مې ټکر وکړ او کله چې طالبانو واک تر لاسه کړ، نو بيا بهٔ ويل کېدل چې (اينا خو پاکستاني هستند!)، د کرزي لهٔ راتګ سره د (طالبان نيکتايي دار!) وراشه رامنځ ته شوه، خو پهٔ فاشيستهاي قبايلي، اقوام نوماد، شوونيست هاي برتري طلب او داسي نورو بهٔ سر نهٔ خوږوم، نو درنو پښتنو کهٔ چيرې تاسو دغو پېښو ته سم ځير شئ، نو هرو مرو يو تاريخي سبق ترې اخلئ، هماغه خبره ده، چې ښېل يې کړه اېل يې کړه!
نو رابشو بېرته د پښتو کره ليکدود ته، بايد ياده شي، چې د کره ليکدود رامنځ ته کېدل پښتانه سره نږدې کوي او د هغوی ځانځانې د وخت پهٔ تېرېدو سره لهٔ منځهٔ ځي او د ملي هويت د جوړېدو امکانات پياوړي کېږي او د افغانستان د خلکو پهٔ منځ کې پوهاوی او زغم رامنځ ته کېږي او د لرګيو لپاره هم آسانېږي، چې يوهٔ کره معياري پښتو زده کړي او د پښتو د ملي کېدو چارې هم پياوړې کېږي.
د پښتنو ستونځې ډېرې دي او پهٔ زړهٔ پورې خو ليا دا ده، چې زموږ ليکوال پخپلو ليکنو کې هېڅ کوم داسې وړانديز نهٔ کوي، چې لهٔ منطق سره برابر وي او يا هم پوهنيز شاليد ولري.
ښاغلی پوهاند مجاور احمد زيار پهٔ خپلو ليکنو کې داسې ټکي رابرسېره کوي، چې د يو عادي افغان لپاره يې پوهېدنه نا شوني ده او د نيولوجيزم پهٔ رڼا کې د پښتو وييپوهنه داسې راسپړي، چې پهٔ غونډله (جمله) کې د کارولشويو وييو مانا ليا هم ستونځمنه کوي. دا ځرګنده ده، چې پوهند مجاور احمد زيار صيب د نوې پښتو د ودې يو ستر مخکښ ګڼل کېږي، خو زموږ ولس ليا دي ته نهٔ دئ رسېدلی چې د پښتو پهٔ نويو وييو سر خلاص کړي، حتی زموږ لوستي پښتانهٔ ليا پهٔ سمييرو ګړدودونو کې لاهو دي او لهٔ نالوستو خو بيا ګيله هم نهٔ کېږي.
د پښتو پهٔ برخه کې زموږ ټولو ليکوالو جوت ګامونه اوچت کړي دي، چې د پښتو د ودې بنسټ ګرځېدلی دئ، پهٔ دې برخه کې د علامه صديق الله رښتين، علامه عبدالشکور رشاد، علامه عبدالحی حبيبي، علامه ګل پاچا الفت، علامه عبدالروف بېنوا او نورو مخکښو پوهانو هلې ځلې د پښتو ستره پانګه جوړه کړې ده، خو پهٔ ننني ليکوالو کې پوهاند مجاور احمد زيار خپل ځانګړی ځای لري، چې د نوې پښتو پهٔ وده کې د زيار صيب نوښتونو د پښتو لمنه درنه کړې ده او پښتو ته يې يو ځانګړی ښايست ورپهٔ برخه کړی دئ.
د پوهاند زيار پښوييزې نوموني ډېرې غوره دي او د پښتو پښوييه يې د نړيولو ژبو لهٔ ګرامر سره برابر کړې، چې دا پخپله يو ستر ابتکار او ژبنيز پرمختګ دئ. د پښتو د وييجوړونې پهٔ برخه کې يې هم جوت پرمختګ کړی دئ، خو د ښاغلي معصوم هوتک پهٔ ليکنو کې ډېر پياوړی ځېړنيز پوتنسيال پروت دئ، خو له ليکنو يې داسې ځرګنديږي، چې د ژبې ليکنه بايد لهٔ ويناي ژبې سره يوه وي، مګر بايد ياده شي، چې د ژبې پهٔ وده کې يو منل شوی ليکدود ډېر غوره ګڼل کېږي او د ټبرونو د يووالي اساسي رښکی ده.
ما خپله لوړتحصيلات پهٔ بهر کې کړي دي او د ژبو په اړه مې هم مالومات لهٔ نورو ژبو تر لاسه کړی، خو پښتانه هر څهٔ بل ډول ويني او تحليل يې هم بل ډول دئ، ځوک لهٔ خپلو سيمييزو غوښتنو نهٔ تېرېږي او يا هم د پښتو معيار د اشخاصو پهٔ غوښتنو تر سره کېږي، لکه د حامد کرزي حکومت، چې پهٔ مصلحتو جوړېږي.
دا ټولو ته ځرګنده ده، چې يوه موسسه، يو ځانګېوه د يو نالوستي پر پرتله ښه پر مخ بېولی شي، خو پهٔ افغانستان کې هر څهٔ په مصلحت تر سره کېږي، ځکه تر ننه جګړه ليا روانه ده، خو پښتو هم لهٔ داسې ناوړه چلند سره مخامخ ده، چې نهٔ يې سر مالوم دئ او نهٔ يې هم بر.
پښتو د افغانستان ملي ژبه وه او پهٔ نړۍ کې څهٔ د پاسه سل ميليونه پښتانه ژوند کوي، چې ګڼشمېر يې پهٔ افغانستان، پښتونستان، هندوستان، ايران او د نړۍ پهٔ نورو هېوادونو کې مېشت دي او پهٔ وروستيو دريو لسيزو کې، پهٔ هېواد کې

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بل شوي اور لهٔ کبله د نړۍ پهٔ ګوټ ګوټ کې خوارهٔ-وارهٔ شول، چې اوس د نړۍ پهٔ بېلابېلو هېوادونو کې پردېس دي.
پښتو د هندو-اروپايي د سترې کورنۍ د هندو-آرياني ډلې پهٔ شمال-ختيزې څانګې پورې اړه لري، جې ګڼشمېر ګړدودونه لري او زوړ ګړدود يې اوس هم ژوندی دئ چې ونېڅي نومېږي او د بلوچستان پهٔ سيمه کې ويل کېږي، خو د پښتو ټول ګړدودونه پهٔ افغانستان او پښتونستان کې پهٔ دريو څانګو کې راغبرګېږي، چې ختيزه، منځنۍ او لوېديزه څانګه جوړوي، چې د دغه څانګو توپير د (ږ – ښ) غږونو پهٔ وينګ کې او په نومونو کې د (ز-ژ-ج) کارول دي، خو د پښتو ليکدود تر يو حده معياري دئ.
پښتانه د تاريخ پهٔ اوږدو کې د بهرني ښکېلاک او خپلمنځي شخړو پهٔ لومه کې ښکېل دي او د بېلابېلو کلتوري يرغلونو لهٔ ګواښ سره مخامخ شوي دي، خو بيا هم پښتنو خپل دود ساتلی او خپل هېواد يې لهٔ غليمه ژغورلی دئ او زموږ پهٔ ټولنه کې داسې خلک تېر شوي دي، چې د پښتو پېښليک زريني پاڼې يې جوړې کړې دي، چې د پير روښان بابا، خوشال خان خټک بابا، رحمن بابا او نورو پښتني پوهانو هلو ځلو پښتو ته نړېواله کچه ورپه برخه کړې ده، چې د هغوی ليکنې او فلسفوي أندونه نړيوال کلتوري ارزښتونه ګڼل کېږي او دا زموږ او تاسو مسؤليت دئ، چې د هغوی کلتوري ارزښتونه وسپېرو اوبل نسل او نورو ته يې وروپېژنو.
دا څرګنده ده، چې پښتانهٔ تل د بهرني يرغل قرباني دي او پهٔ وروستيو دريو پېړيو کې افغانستان د بېلابېلو جګړو ډګر ګرځېدلی دئ او پهٔ وروستيو دېرشو کلونو کې زموږ هېواد د ځبرځواکونو په سياليو کې ښکېل دئ، چې زموږ د هېواد د پرختګ مخه يې نيولې ده او زموږ هېواد يې د بدمرغي کندې ته ورغورځولی دئ، خو بيا هم دا زموږ لوستو دنده ده، چې پښتو ته کار وکړواو د پښتو پهٔ علمي کېدو کې جوت ګامونه اوچت کړو او خپل هېواد او ژبه لهٔ ورکېدو وژغورو، ښه ويل شوي، چې په لمر يې ګټه په سيوري يې خوره!.
نن سبا افغانان د نړۍ پهٔ بېلابېلو سيمو کې مېشت شوي دي، چې ډېرګړو يې لوړ تحصيلات تر سره کړي دي او ګڼشمېر يې د څانګپوهنې تر کچې رسېدلي، نو د پښتو ژبې پهٔ اړه څېړنې او خپله ژبه او کلتور نورو ته ورپېژندل د دوی معنوي دنده ګڼل کېږي او پرته لهٔ لوستو پښتنو نور هېڅوک هم نهٔ شي کولی پښتني کلتور او پښتو پهٔ سمه توګه وسپړي او ويې څېړي او پرديو ته يې وروپېژني. کره ليکدود د پښتو څېړېدنه آسانوي او په زده کړه کې يې سهولتونه رامنځ ته کېږي.
څرګنده ده چې پهٔ بهرنيو هېوادونو کې د کلتوري اړيکو ټينګول ډېر اړين بريښي او پښتانه د نړۍ د خلکو يوه لويه برخه جوړوي او پښتني کلتور د پام وړ تاريخي ارزښت لري، چې لهٔ بېلابېلو ټبرونو سره ګډ اړخونه لري او لهٔ يو او بل سره ګډ ژوند لري او دا جوته ده، چې لهٔ نورو ټبرونو سره د پوهاوي او زغم مزي د يو او بل پهٔ کلتوري ارزښتونوکې نغښتي دي، نو د يو هېواد ژبه پهٔ تېره بيا کره پښتو او افغاني کلتور نورو ته روښانول، د لوستو افغانانو مسؤليت ګڼل کېږي.

پايله

ښه ويل شوي، چې کاڼه ته ډول مه وهه او ړانده ته نڅېړه مه! نو درنو افغانانو، ما څکه په خپلو ليکنو کې د پښتو ژبې د نامتو ليکوالو د ليکنو اواندونو بېلګې رااخيستې دي، چې د پښتو د با صلاحيته ليکوالو او مشرانو پام دغه ستونځې ته له بل اړخه ورواړوم، چې په ګوته شي، چې د پښتو کره ليکدود د افغانانو په يووالي، د هېواد په ځمکني بشپړتيا او د افغان ملت په جوړېدنه کې څومره غوره اغېز لري، نو زما ليکنې هم دغه ستونزې ته ځانګړې شوې دي، کېدای شي ترخې ليکنې وي، خو وايي، چې: دوست به دې وژړوي، خو دښمن به دې وخندوي!.

په درنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ